# د افغـــــانستان اســـــلامي امـــارت

## د ارشــــاد، حج او اوقـــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۱۷/ ربيع الأول /۱۴۴۶ هـ، ق مطابق ۳۰/ سنبله /۱۴۰۳هـ، ش**

## د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د هجرت بيان او د اُمّت لپاره پکې درسونه او عبرتونه

**بسم الله الرحمن الرحيم**

الْحَمْدُ لِلَّهِ، فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ جَاعِلِ الْمَلَائِكَةِ رُسُلًا أُولِي أَجْنِحَةٍ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ يَزِيدُ فِي الْخَلْقِ مَا يَشَاءُ إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، والصلاة والسلام على نبينا محمدٍ، الذي أرسله ربه هاديًا ومبشرًا ونذيرًا وداعيًا إلى الله بإذنه وسراجًا منيراً،أما بعدُ:

قال الله سبحانه وتعالى:{ إِلاَّ تَنصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُواْ ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لاَ تَحْزَنْ إِنَّ اللّهَ مَعَنَا فَأَنزَلَ اللّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُواْ السُّفْلَى وَكَلِمَةُ اللّهِ هِيَ الْعُلْيَا وَاللّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ} التوبة:(٤٠)

**درنو حاضرينو او محترمو اوريدونکو!**

نن د ربيع الأول مياشت (۱۷) تاريخ دی او دا مياشت د اسلام په تاريخ کې ډير ارزښت او اهميت لري ؛ ځکه چې په دې مياشت کې يوه عظيمه او سرنوشت سازه پيښه رامنځ ته شوی ده چې هغه د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د مکې مکرمې څخه مدينې منورې ته هجرت کول دي، په کار ده چې مونږ ورڅخه ځانونه هم خبر کړو او هم له هغو درسونو او عبرتونو ځانونه خبر کړو چې په دې مهمه واقعه کې پراته دي.

رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ديارلس کاله په مکه مکرمه کې خلک د الله تعالی وحدانيت ته راوبلل ددې لپاره چې خلک له شرک څخه توبه وباسي او د الله وحدانيت ومني هر ډول زحمتونه او تکليفونه يې وزغمل او دالله تعالی په لاره کې هغه ته او د هغه ملګرو ته د قريشو له خوا قسما قسم تکليفونه ورسيدل، خو نبي اکرم صلی الله عليه وسلم او د هغه ملګرو به ور باندې صبر کولو.

کله چې په مکه مکرمه کې د کفر او اسلام شخړه اوج ته ورسېده او د حق دين د پيروانو هلته نور اوسېدل ډېر ستونزمن شول، نو د لوی څښتن لخوا رسول اکرم صلی الله عليه وسلم او د هغه سرښندونکو ملګرو ته مدينې منورې ته د هجرت حکم وشو.

پوهيږو چې له مکې مکرمې څخه مدينې منورې ته د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم هجرت په تاريخ کې يوه ستره او عظيمه پېښه ده. دې چارې د تاريخ لوري ته ستر او ژور بدلون ورکړ او د اسلام مقدس دين يې د لوی عزت، برم، ثبات، تائيد او قوت خاوند کړ. د دې چارې په ترسره کېدو سره خيرن نفسونه سپېځلي شول، حق او ايمان څرګند شو او د

باطل ټغر ورټول شو او بالآخره مدينه منوره د رسول الله صلی الله علیه وسلم مېنه او ټاټوبی وګرځېد چې د مدينـة الرسـول په نسبت کې د هغه ښار ستر شرف او فضيلت نغښتې دی.

## په دوهمه عقبه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د مدينې منورې انصارو بيعت:

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا معمول وو چې هر کال به يې د تبليغ د فريضې د تر سره کولو لپاره د حج له نړۍ والي اجتماع څخه ګټه اخيستله او د بېلا بېلو ملکونو او ښارونو د وګړو سره به يې ليدل، هغوی ته به يې د اسلام او دالله تعالی د وحدانيت دعوت ورکاوه.
د لومړنۍ عقبې څخه وروسته د نبوت په دیارلسم کال د حج په موسم کې د مدينې منورې څخه (۷۳) تنه مسلمانان، چې دوه تنه ښځې نسيبة بنت کعب او اسماء بنت عمرو بن عدی هم پکې وې د حج د فريضې د ادا کولو لپاره مکې مکرمې ته راغلل.
دوی په مدينه منوره کې يا د مکې په لار کې يو له بله سره وويل چې موږ بايد رسـول اللـه صـلی اللـه علیـه وسـلم مدينې منورې ته را وبولو، نو هغه وو چې د ذي الحجي پر (۱۲) د شپې په تياره کې يې د رسول الله صلی الله علیه وسـلم سره د عقبې په تنګي کې غونډه وکړه. کله چې ټول سره راغونډ شول، نو وه يې وويل : ای د لوی څښتن استازيه! مـوږ ستاسـو سره پر کومو شرايطو مدينې منورې ته ستاسو د تشريف وړلو په هکله تړون وکړو ؟ . نبـي اکـرم صـلی اللـه علیـه وسـلم وفرمايل : « تړون به پر دې خبره وي چې تاسې به ستاسې په هره خوښه او ناخوښه خبره کې زما خبره منئ، پر نېکيو به حکم کوئ، له بديو به ډډه کوئ، خدايي خبرې به کوئ ، د خدای په وړاندې به د چا د ملامتيا څخه نه وېرېږئ او چې زه تاسې ته درشم نو تاسې به زما مرسته کوئ او د خپلوځانونو، او د کور د غړو غوندې به مې ساتنه او ننګه کوئ. د دې په نتيجه کې به تاسو ته جنت درکول کيږي ».
انصارو وويل : ای اسعده ! د دې خبري تصور هم مه کوه، موږ به هيڅکله له دې بيعت څخه سر ونه غـړوو او نـه بـه يـې مات کړو.
د دې بيعت د زيات ټينګښت لپاره حضرت براء بن معرور بن صخر خزرجي نجاري رضي الله عنه د رسـول اللـه صـلی اللـه علیه وسلم مبارك لاس ونيولو او وه يې ويل : هو! په هغه سپېڅلي ذات لوړه کوم چې ته يې په حقه نبي را لېږلی يې، موږ به تر خپلو ځانونو زيات ستا ساتنه وکړو، په الله قسم چې موږ نسل له نسله جګړه مار وګړي يو او د وسلې په کارو لو ښـه پوهېږو .
تر دې وروسته انصارو دا انديښنه څرګنده کړه چې که د الله تعالی په مرسته او نصرت تاته بری په برخه شو، نو ته به موږ نه پرېږدې او خپل قوم ته به بيرته نه ورځې. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل :« داسـې هيڅکلـه نـه کيـږي! زمـا ژوند او مړينه ستاسې سره ده. زه او تاسې به يَو يُو، د چا سره چې ستاسې جنګ وي د هغه سره به زما جنګ وي او د چـا سره چې ستاسې سوله وي د هغه سره به زما هم سوله وي ». په دې ډول د عقبې دوهم تـاريخي او نـامتو بيعـت ( بيعـت عقبهٔ کبریٰ) تر سره شو. بيا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل :« تاسې خپل دوولس تنـه مشران ماتـه را معـرفي کړئ، ترڅو هغوی د خپلو قبيلو نمايندګي وکړي ». انصارو دوولس تنـه مشران؛ نهـه لـه خزرجـو او درې لـه اوسـو څخـه وروپېژندل چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په تجويز د هغو د قبيلو نقيبان وټاکل شول.

## د مشرکينو غونډه او د محمد صلی الله علیه وسلم د وژلو پرېکړه :

کله چې د مکې مکرمې مشرکينو احساس کړه چې معامله د دوی له لاسه وځي، نو بالآخره يې د نبوت په (۱۳ يا ۱۴)کـال د صفر المظفر مياشت په (۲۶) نېټه د پنجشنبې په ورځ ترغرمې د مخه د مکې په پارلمان ( دار الندوه ) کې د تـاريخ تـر ټولو خطرناکه غونډه جوړه کړه چې په هغې کې د قريشو ټولو استازو ګډون وکړ. په غونډه کې د حضرت محمد(صلي الله عليه

وسلم) د وژلو لپاره ډول ډول تجویزونه وړاندې شول او ټول مسترد شول، خو د ابوجهل دا تجویز د رایو په اتفاق ومنل شو چې د هري قبیلې څخه دې یو یو تن په یو ځای پر محمد(صلی الله علیه سلم) د تورو ګذار وکړي او ودې وژني، په دې ډول به د هغه وژنه پر ټولو قبایلو ووېشل شي او (بني هاشم) به د ټولو قبایلو سره مقابله و نشي کړای، خو د دې بر عکس د لوی څښتن تعالی تدبیر بل ډول وو، لکه چې فرمایي :﴿ وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ ﴾ [الانفال:۳۰]

ترجمه:- او کله چې له تا سره کافرانو مکر (فریب) کاوه، د دې لپاره چې تا بندي کړي، یا تا قتل کړي، یا تا وباسي، او هغوی چلونه کول او الله (هم) پټ تدبیر کاوه او الله تر ټولو بهتر تدبیر کوونکی دی

## دالله تعالی له لورې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته د هجرت اجازت :

د دې سره سم حضرت جبرائیل سمدستي د الله تعالی وحي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راوړه او د قریشو له دغه پریکړې څخه د خبرولو په ترڅ کې یې ورته وویل چې خدای تعالی دا نن شپه تاته له دې ځایه د تللو اجازه درکړې ده او دا آیت پر نازل شو :( وَقُلْ رَبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ وَاجْعَلْ لِي مِنْ لَدُنْكَ سُلْطَانًا نَصِيرًا). [الا سراء :۸۰] السیرة النبویة لابن کثیر (۲/ ۲۲٦)

ترجمه :- او ته ووایه: ای زما ربه! ته ما داخل کړه په رښتیني داخلولو سره او ته ما وباسه په رښتیني وېستلو سره او ته زما لپاره له خپل جانب نه یو مددکوونکی قوت مقرر کړه

تر دې اطلاع وروسته نبي کریم صلی الله علیه وسلم غرمه د ابو بکر کورته ورغی، ورته وه یې ویل چې ماته د هجرت اجازه شوې ده. حضرت ابوبکره صدیق ورته وویل : ماته به هم ستاسې د ملګرتیا شرف را په برخه شوی وي ؟ هغه ورته وفرمایل : هو! په دې ډول د سفر لپاره تیاری ونیول شو او رسول الله صلی الله علیه وسلم بیرته خپل کور ته ولاړ. هغه حضرت علي رضي الله عنه را وغوښت او ورته یې وویل چې ما ته د هجرت حکم شوی دی او نن شپه مدینې طیبې ته ځم، ته به زما پرکټ بیده شې او زما دغه زرغون حضرمی ( په حضرموت یا جنوبي یمن کې جوړ شوی) څادر به په ځان باندي واچوې. تاته د دوی له لاسه څخه څه تاوان نه رسیږي، سهار د هغو کفارو امانتونه چې ما سره یې ایښي ؤ خپلو مالکانو ته وسپاره او بیا مونږ پسې مدینې منورې ته راځه.

## د رسول الله صلی الله علیه وسلم د کور محاصره کول :

د کفارو د پلان سره سم د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم کور د یوولسو وسله والو کسانو لخوا محاصره شو،تر څو هرکله هغه راووزي برید پری وکړي او له منځه یې یوسي ـ العیاذ بالله. کله چې د شپې ډېره برخه تېره شوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت علي کرم الله وجهه پرخپل ځای پرېښوده او هغه له کوره راووتلو او د دغو وسله والو پر سرونو یې یو موټی خاورې وشیندلې. د الله تعالی په قدرت له دغو وسله والو کسانو څخه هیڅا هغه ونه لیده، په داسې حال کې چې د سورت یس لومړني نهه آیتونه { وَجَعَلْنَا مِن بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَاهُمْ فَهُمْ لاَ يُبْصِرُونَ} [ یس : ۹ ]یې تلاوتول د حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه کورته ورغی او له هغه ځایه دواړه د پنجشنبې په شپه د ابن کثیر په روایت کې د پنجشنبې په شپه د صفر المظفر پر (۲۷)تاریخ د نبوت په (۱۳ یا ۱٤) کال له مکې مکرمې ښار څخه د جبل ثور پر لور حرکت وکړ او هلته د ثور په نامه په یوه سمڅه ( غار ) کې پټ شول، لومړی ابوبکر صدیق رضي الله عنه سمڅې ته ننوتلو ترڅو ځای هوار کړي او د زیان رسوونکو حشراتو دنه شتون څخه ځان مطمئن کړي، کله چې یې په غار کې سوړې بندې کړې بیا یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د داخلیدو بلنه ورکړه.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم او حضرت ابوبکر صدیق په دې سفر یواځې حضرت علي او د ابوبکرصدیق رضي الله عنهما کورنۍ خبرې وې. د ابوبکر صدیق لوڼو بي بي عایشې او بي بي اسماء د دوی د لارې د توښې په برابرولو کې ډېر

زيارروايست. عايشه رضي الله عنها وايي چې په دغه شپه داسې رسۍ ونه موندل شوه چې د دوی د خوړو د بوجۍ خوله پرې وتړي، نو بي بي اسماء خپل کمربند دوه ټوټې کړ ، په يوه ټوټه يې د بوجۍ خوله وتړله او په بله ټوټه يې خپله ملا وتړله. په ځينو روايتونو کي وايې چې په يوه يې د بوجۍ خوله وتړله او په بله يې د مشك خوله وتړله. له دې امله په (ذات النطاقين) ( د دوو کمربندونو په خاوندې ) ونومول شوه.

ابوبکر صديق رضي الله عنه چې څه نغدې پيسې درلودلې هغه يې ټولې له ځان سره واخيستې چې ټولې اوه زره درهمه کيدلی او همداراز

ابوبکر صديق رضي الله عنه دوه اوښې په اته سوه درهمه اخيستې وی تيارې کړی وې او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يي وويل چې يوه ستا لپاره ده او په دې بله به زه سپور شم. نبي عليه السلام ورته وويل: نه ! داسې نه کوم په پيسو به يې راکوئ! ابوبکر صديق د ډير الحاح څخه وروسته د نبي عليه السلام حکم ومنلو او هغه اوښه نبي عليه السلام له ابوبکر صديق رضی الله عنه څخه په په پيسو واخيسته چې (قصواء) نوميده او هغه دواړه اوښې ابوبکر صديق رضي الله عنه عبد الله بن اريقط ته ورکړې چې له ځانه سره يې وساتي.

### د ثور په سمڅه (غار) کې :

د صديق اکبر رضي الله عنه يو ځوان زوی عبد الله چې ډېر هوښيار وو، شپه به يی په دغه سمڅه کې تېرولـه او سهار وختي به دمکې ښارته وتلو، د قريشو سره به يوځای شو، څه مشوره چې به هغوی په خپل منځو کې کوله د هغې په هکله به يې د شپې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته اطلاع را وړله. دغه راز د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه يو آزاد شوی غلام (مريي) عامر بن فهيره به د ورځې ګډې پوولې او ماښام به سمڅې ته ورتللو، رسول الله صلی الله عليه وسلم او حضرت ابوبکر صديق ته به يې شيدې ورکولې. په دې ډول هغوی درې شپې؛ د جمعې، شنبې او يك شنبې شپې په غارثور کې تيرې کړی.

### د قريشو لخوا د رسول الله صلی الله عليه وسلم لټون:

کله چې قريش پوه شول چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يې له لاسه وتلی دی سخت په غوسه شول او هرې لورې ته يې په رسول الله صلی الله عليه وسلم پسې سړي ولېږل، چې له هغو څخه يوه ډله د ثور د سمڅې تر خولې ورسېدل. څنګه چې ابو بکرد هغو د قدمونو کشار واورېدلو، وه يې ويل :ای د الله رسوله! که له دغو څخه يو سړی خپلو پښو ته وګوري، نو سمدستي به مو ويني.

نبي عليه السلام ورته وويل :(مَا ظَنُّكَ يَا أَبَا بَكْرٍ بِاثْنَيْنِ اللَّهُ ثَالِثُهُمَا) صحيح البخاري ت (٩/ ١٨٥). ای ابو بکره ! ستاڅه فکر دی د هغو دوه کسانو په اړه چې دريم ذات ورسره الله مل وي. يعني زمونږ حفاظت الله تعالی کوي.د دې معجزې له مخي تلاش کونکو دوی ونه موندل او بېرته ولاړل. ابوبکر صديق رضي الله عنه له مکې څخه تر رخصتېدو د مخه لا يو اعتمادي کافر عبد الله بن أُرَيقِط ليثي دلارې د ښوولو لپاره په اجوره نيولی ؤ. [خلاصة الوفا بأخبار دار المصطفى (ص: ٨٧] د پروګرام سره سم په څلورمه ورځ هغه د حضرت ابوبکر صديق دوه اوښې جبل ثور ته ور وستې او رسول الله صلی الله عليه وسلم ، ابوبکر رضي الله عنه او عامر بن فهيره چې ابوبکر صديق رضي الله له ځان سره په اوښه سپور کړی ؤ او عبدالله بن اريقط لارښود چې په خپله سپرلۍ سپور ؤ ، د دوشنبې په شپه د ربيع الاول په لومړۍ نيټه د مدينې په لورې

روان شول. [فصول من السيرة لابن كثير(ص: ۱۰۲] تر یوې ورځې او شپې پرله پسې سفر وروسته بله ورځ غرمه چې تودوښه ډېره زیاته وه، نو ابو بکر رضي الله عنه د یوه سیوري په لټه کې شو، تر څو حضرت محمد صلی الله علیه وسلم استراحت ورته وکړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم استراحت وکړ، او بیایې یوڅه شیدې ورته پیداکړې او هغه یې وڅښلې او بیا روان شول. بیا د نبوت قافله د ام معبد عاتکه بنت خالد الخزاعية په خېمه کې تم شوه. ډنګرې او وچې مېږې چې له دې امله یې د رمې سره نه وه بېولې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دعاء او د هغه په لاسونو د لوشلو له کبله دونه ډېرې شیدې وکړې چې ټولو وڅښلې او په ماړه شول.

**د قریشو یو بل چل :**

قریشو ـ چې په خپلو ناپاکو مقاصدوکې پاته راغلي وه ـ یو بل چل په لاره واچاوه، ویې ویل : هرچا چې محمد یا ابو بکر ونیول او رایې وستل سل اوښان به انعام کی ورکول کیږي. کله چې سُراقه بن مالك المدلجي دا خبره واورېده، د هغه مبارك په لټه کې شو. اتفاقاً یې هغه و موند، خو د الله تعالی په قدرت د هغه د آس پښې په مځکه کې ننوتلې او هغه ور څخه ولوېد. په دې اړه ابوبکر صدیق رضي الله عنه وایي: (وَاتَّبَعَنَا سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكٍ، فَقُلْتُ: أُتِينَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ: «لاَ تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا» فَدَعَا عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَارْتَطَمَتْ بِهِ فَرَسُهُ إِلَى بَطْنِهَا ، فَقَالَ: إِنِّي أُرَاكُمَا قَدْ دَعَوْتُمَا عَلَيَّ، فَادْعُوَا لِي، فَاللَّهُ لَكُمَا أَنْ أَرُدَّ عَنْكُمَا الطَّلَبَ، فَدَعَا لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَجَا، فَجَعَلَ لاَ يَلْقَى أَحَدًا إِلَّا قَالَ: قَدْ كَفَيْتُكُمْ مَا هُنَا، فَلاَ يَلْقَى أَحَدًا إِلَّا رَدَّهُ، قَالَ: وَوَفَى لَنَا) صحيح البخاري (٤/ ٢٠٢)

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه فرمایي: او سراقه بن مالک زمونږ په تعقیب پسې را روان ؤ، کله چې سراقه مونږ ته نژدې شو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مې عرض وکړ چې یارسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته راورسید، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : مه پریشانه کیږه، ځکه الله جل جلاله له مونږ سره دی، وروسته یې د سراقه په حق کې ښیرا وکړه او د هغې په اثر د سراقه آس تر ګیډې پورې په زمکه کې ننوتلو او سراقه وویل ما ته معلومه شوه چې تاسو زما په حق کې ښیرا وکړې، اوس که دعا راته وکړئ چې له دې مصیبت څخه خلاص شم نو لوړه کوم که څوک هم چې ستاسو په تعقیب کې وي هغه به بیرته ستنوم او له لارې څخه به یې ګرځوم، همدا وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د نوموړي په حق کې دعا وکړه او له مصیبت څخه ورته نجات حاصل شو، وروسته چې به هر څوک له سراقه سره مخامخ کیدل هغه کس ته به یې ویل چې حضرت محمدصلی الله علیه وسلم او ملګری یې په دې لوری (طرف) کې نشته (یعنې هغوی دیخوا ته نه دي راغلي) او په خپله وعده کی یی له مونږ سره وفا وکړه.

په دې ډول د هجرت دا قافله مزل په مزل په امن او امان مدینې منوری ته ورسېده؛ هرکله چې د مدینې منورې اوسېدونکي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سفر څخه خبر شول؛ نو هغوی د هغه مبارك د تشریف راوړلو انتظار کولو. دوی به هره ورځ د سهار تر لمانځه وروسته د مدینې منورې

د باندې وتل او د هغه انتظار به یې کاوه. څنګه چې به تودوښه زیاته شوه نو به کوم سیوري ته ودرېدل. خو چې سیوري به ورټول شول، نو بېرته به ښار ته ولاړل. د هغه د تشریف راوړلو په مبارکه ورځ هم هغوی د مدینې د باندې انتظار ایستلی وو، خو چې سیوري ټول شول هغوی هم ناهیلي شول بېرته خپلو کورونو ته ولا ړل. خو څنګه چې دوی ولاړل، رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف راوړ. تر ټولو دمخه نبي علیه السلام یوه یهودي ولید. څنګه چې هغه پوهېدی چې د مدینې خلك د هغه ورتلو ته په لېوالتیا سره منتظر دی، له دې امله هغه په لوړ آواز ناري کړې چې : ای عربو ! ای بنو قیله وو ! ( د انصارو پخوانی نوم وو ) ستاسي بخت بیداره شو . تاسې چې د کوم چا انتظار ایستی هغه راغی !. د

دې اعلان په اورېدو سره ټول انصار؛ لوی او واړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم هر کلي ته راووتل. د مدینې آسمان د تکبیرونو آوازونو پر سر واخیست او په ټول ښار کي خوښي او ښادي شوه. رسول الله صلی الله علیه وسلم د خرما د یوې ونې تر سیوري لاندې تشریف درلود. د هغه ملګری ابوبکر رضي الله عنه هم تقریباً د هغه همزولی وو. اکثرو خلکو هغه د مخه نه وو لیدلی. له دې امله هغو ته نه معلومېده چي کوم یو دالله تعالی رسول دی؟ د خلکو ګڼه ګوڼه ښېخي ډېره وه، دغه مهال د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سره سیوری ایسته شو، ابوبکر سمدستي پاڅېد او خپل پټو یې دهغه پر سر ونیولو؛ چي له دې څخه خلکو د الله تعالی پېغمبر وپېژندلو.

وروسته وسله والو مسلمانانو په حره ( د تورو ډبرینو تیږو په میدان) کې د هغه هرکلی وکړ ، ځینو به په زوره شعارونه ورکول: الله اکبر رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف راوړ. الله اکبر محمد صلی الله علیه وسلم تشریف راوړ.

ځینو کوچنیو نجونو د دریاو سره دا شعرونه ویل :

طلع البدر علینا ******* وجب الشکر علینا

من ثنیات الوداع*******ما دعا لِله داع

ایها المبعوث فینا******جئت بالا مر المطاع

ژباړه :- د څوارلسم سپوږمی پر موږ باندې له ثنیة الوداع کنډو څخه ( دهغو غرونو کنډو څخه چې د سهیل لورې ته پراته دي ) را وختله. نو له دې امله پر موږ باندې د دې نعمت شکر؛ تر څو چې یو تن هم لوی څښتن تعالی یادوي او عبادت یې کوي، لازم او واجب دی.

ای هغه څوکه چې زموږ د لا رښوونې لپاره را لیږل شوی یې ! بېشکه چې تا موږ ته د منلو او اطاعت وړ امر راوړی دی.( تا موږ ته په واجب الاطاعت شریعت سره راتلل وکړل ).

تقریباً پنځه سوه کسان درسول الله صلی الله علیه وسلم او دابوبکر صدیق رضي الله عنه استقبال ته راوتلي ؤ.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د وسله والو کسانو او نورو په بدرګه روان شو، د مدینې منورې په لار کې ښي لور ته وګرځېد او د قباء په کلي کې د بنوعمرو بن عوف د قبیلې د یو تن حضرت کلثوم بن هِدم العَمري په کور کې یې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ورتلو دمخه لا مسلمان شوی وو او یو شریف او صالح سپین ږیری وو، واړول. په ځینو روایتونو کي وایي چې د سعد بن خیثمه په کور کې اوسېده؛ خو لکه چې د ابن هشام د سیرت او ابن سعد د الطبقات الکبری له روایتونو څخه څرګندیږي سعد ښځه اوکوچنیان نه درلودل، نو هغه د خلکو سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ملاقاتونو لپاره خپل کور ورته چمتو کړی وو. په دې ډول رسول الله صلی الله علیه وسلم د کلثوم کور کې اوسېده، خو د خلکو سره یې لیدنې کتنې د سعد په کور کې کولې. دا د دوشنبې ورځ، د الرحیق المختوم په قول د ربیع الاول په اتم تاریخ او د بذل القوة په قول د ربیع الاول په دوولسم تاریخ درې ورځي وروسته حضرت علي رضي الله عنه هم قباء ته پلي ورو رسېده. په دې ډول د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارك زړه ته ډاډ حاصل شو.

دا په مدینه منوره کې یوه داسې تاریخي ورځ وه چې مخکې یې چا ساری نه وو لیدلی. په قباء کي رسول الله صلی الله علیه وسلم څو ورځي تېري کړې او هلته یې د قباء د تاریخي جومات د بنسټ ډبره کېښوده. د دې جومات د بنسټ لومړۍ ډبره حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم کېښوده او په یو روایت کې راځي چې په دې کار کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه وو سره یوځای کار کاوه او درنې ډبري به یې پر خپل مبارك نس لګولې او وروړلې به یې. صحابه وو چې هرڅونه ورته وویل چې تاسو زحمت مه باسئ او موږ ته یې را پرېږدئ خو هغه و نه منل او د هغو سره یې په دې کار کې سمه ونډه واخیسته. وایي په کوم ځای کې چې دغه جومات جوړ شوی دی هغه د کلثوم بن هدم د خرماوو د وچولو میداني وه. هغه دغه ځای رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د جومات جوړولو لپاره ورکړ. رسول الله صلی الله علیه

وسلم د دې جومات سره ډېره مينه درلوده او هره اوونۍ به يې له مدينې څخه دغه جومات ته کله پر اوښه، کله پلی تشريف وروړلو. د دې جومات په غولي کې د مخه يوه قبه وه دا د رسول الله صلی الله عليه وسلم د اوښې د ځو کېدو ځای وو؛ خو اوس چې يې د دغه جومات ودانۍ په نوي ډول جوړه کړې ده د دغې قبې څه نخښه نه ده پاته شوې. په د ې ډول دا په اسلام کې لومړنی جومات دی چې بنسټ يې ايښوول شوی دی.

کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له قباء څخه د مدينې منورې پر لورې روان شو د جمعې ورځ وه او لږ مهال وروسته د جمعې د لمانځه وخت راورسېد، نو هغه وو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د بني سالم بن عوف په کلي کې په " وادي رانونا" نومي ځای کې د لومړي ځل لپاره د جُمعې لومړی خطبه واوروله او سلو تنو ته يې د لومړي ځل لپاره د جُمعې لمونځ ورکړ. اوس پر هغه ځای جومات ودان دی چې مسجد جُمعه او مسجد الوادي او مسجد عاتکه ورته ويل کيږي او بيا مدينې ته داخل شو.

## مدينې منورې ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم تشريف وړل:

کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له قباء څخه مدينې منورې ته د تلو اراده وکړه نو د خپل نيکه عبدالمطلب د مور پلرګنۍ (بنو نجار ) ته يې پيغام ور واستاوه. ( د رسول الله صلی الله عليه وسلم له نيکونو څخه يوه تن هاشم بن عبد مناف د بني نجارو څخه يوه ښځه چې سلما بنت عمر نومېده وکړه او له هغې څخه يې يو زوی شيبه نومی پيدا شو. د هاشم بن عبدمناف له مړينې وروسته کله چې شيبه لوی شو د هاشم ورور مطلب شيبه له مدينې منورې څخه مکې ته بوتللو. د مکې خلکو داسې ګڼل چې شيبه ګوندې د مطلب غلام دی، نو ځکه يې هغه د عبدالمطلب په نامه ياد کړ او د حضرت محمدصلی الله عليه وسلم نيکه په عبدالمطلب وپېژندل شو، له دې امله بنو نجار د رسول الله صلی الله عليه وسلم ما ما ګان بلل کېدل). هغوی د وسلو سره مخې ته ورغلل، رسول الله صلی الله عليه وسلم پر اوښه سپور شو او د هغو د مخه روان شو . حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د نبي اکرم صلی الله عليه وسلم ترشا سپور وو . د بنو نجارو او نورو مسلمانانو ډېره ګڼه ګوڼه وه. ځوك سپاره، ځوك پلي د هغه ترشا او ښي او کيڼ اړخ ته روان ؤ، دغه مهال نامتو صحابي حضرت عتبان بن مالك او عباس بن عُبادة بن نضله رضي الله عنهم د بنو سالم د قبيلې د نورو وګړو په شمول له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه هيله وکړه چې له دوی سره دې په بنو سالم کې پاتې شي، خو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل « زما د تم کېدو ځای لا څه وړاندې دی ». بيا يې سفر ته ادامه ورکړه. په لار کې چې د کومو مسلمانانو کورونه واقع ؤ، هغو د هغه د هرکلي او زيارت شرف ترلا سه کاوه او په خپل تاتوبي کې يې د هغه د اوسېدو هيله کوله. خو هغه د خپلې اوښې واګې خوشې کړې وې او دا جواب به يې ورکاوه چې :« زما اوښې ته دالله جل جلاله له لورې دنده ورکړه شوې ده، دا چې هرځای کې ځو شوه هغه به زما د استوګنې ځای وي ». د حضرت نبي کريم صلی الله عليه وسلم اوښه روانه وه، د کورونو پر بامونو او د لارې پر دواړو خواوو د صحابه وو نرانو او ښځو د تکبير ناري وهلې او ويل يې :(اللَّهُ أَكْبَرُ جَاءَ رَسُولُ اللَّهِ. اللَّهُ أَكْبَرُ جَاءَ مُحَمَّدُ ، مَرْحَبًا يَا نَبِيُّ اللَّهِ ). د انصارو معصوم کوچنيان د اسي خوشاله وه لکه د اختر مياشت چې پر را ختلې وي او د درياو سره يې دا ترانه ويل : نحن جوار من بني النجار*****يا حبذا محمد من جار ؛يعني : موږ د بني نجارو د کورنۍ نجونې يو . خوښې دې وي هغه چا لره چې محمد يې ګاونډي وي.

لنډه داچې د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د ورتلو له امله يو ستر جشن جوړ شوی وو. حضرت براء بن عازب رضي الله عنه فرمايي : ما هيڅکله د مدينې منورې خلك دونه خوشحاله نه ؤ ليدلي؛ لکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په ورتلو چې څومره خوشحاله ؤ. حضرت انس رضي الله عنه فرمايي :په کومه ورځ چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مدينې ته تشريف وروړ نو د هغه ځای کوڅه کوڅه او ذره ذره روښانه شول، او په کومه ورځ چې هغه وفات شو، نو په هغه ورځ د مدينې منوره هرکوڅه تياره تر سترګو کېدله.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ورتلو په ورځ ان حبشیانو لا د خوشالۍ په دود د نېزو او خنجرونو د لوبو ننداره وړاندي کړه. بالاخره د رسول الله صلی الله علیه وسلم اوښه ( قصواء) تله تله، کله چې د بنو مالك بن نجار سیمې ته ورسېده، و درېده، په زنګنونو کیناسته.( پر دغه ځای وروسته د نبوي مسجد دروازه؛ باب جبرائیل جوړه شوه ). خو رسول الله صلی الله علیه وسلم لا پر اوښه ناست وو چې اوښه سمدستي بېرته ولاړه شوه، څو ګامه وړاندې ولاړه او بیا بېرتـه را وګرځېده او پر هماغه لومړي ځای ځو شوه. ګواکې په دې ډول یې د نبوي مسجد د جوړېدو ځای په نښه کړ. دغه مهال رسول اللـه صلی الله علیه وسلم وفرمایل :« هَذَا إِنْ شَاءَ اللَّهُ الْمَنْزِلُ » ( دا که دالله تعالی خوښه وي زما د استوګنې ځـای دی). دغـه ځای ته د حضرت ابو ایوب انصاري رضي الله عنه کور ډېر نژدې وو، هغه له اوښې څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اسباب را واخیستل او خپل کور ته یې یوړل. دغه مهال رسول الله صلی الله علیـه وسـلم وفرمایـل :« إِنَّ الرَّجُـلَ مَـعَ رَحْلِهِ حَيْثُ كَانَ » یعني هر څوك د خپلو شیانو او اسبابو سره اوسیږي. په دې توګه د ابو ایوب انصاري کور د رسول اللـه صـلی الله علیه وسلم په اوسېدو مشرف شو. ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ. د صحیحو روایاتو له مخې رسـول اللـه صـلی اللـه علیه وسلم د ابو ایوب په کور کې اووه یا اته میاشتې و او سېده.

داچې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته یواځې د کفارو د ظلم څخه دپناه اخیستلو په نیت هجـرت نـه ؤ کړی، بلکې داسلامي دعوت د خپرولو لپاره دمرکز دټاکلو او د اساسي کـارونو د تنظیمولـو لپـاره یـې هجـرت کـړی ؤ، بنـاءً مدینې منورې ته د رسیدو سره سم هغه کار چې نبي علیه السلام تر هرڅه د مخـه وکـړ هغـه د مسجد نبـوي آبـادول ؤ او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم داسلامي حکومت او اسلامي ټولنې بنسټ کیښود او لـه مسـلمانانو، مشرکینو او یهـودو څخه یې ګډ ټولنیز نظام رامنځ ته کړ. په مدینه منوره کې د یهودو درې قبیلې موجودې وی: بنو قَيْنُقَاع، بنو النَّضِير، او بنو قُرَيْظَة.چې ددوی ترمنځ د کلونو کلونو جګړې تیری شوی وې، خو رسول اکرم صلی الله علیه وسلم داسې نظام رامنځ ته کړل چې دا ټول یې په کې شریک کړل.

همدا راز د مهاجرینو او انصارو ترمنځ یـې د مواخـاتو او ورورګلـوۍ تـړون وتـړلـو او دوی ټـول نـوي(۹۰) کسـان ؤ ، پنځـه څلویښت دمهاجرینو له جملې څخه ؤ او پنځـه څلویښـت کسـان لـه انصـارو څخـه ؤ او دا مواخـات او ورورګلـوي د عـامې اسلامي ورورګلوۍ څخه خاصه وه ځکه چې ددغه مواخات له مخې مهاجر ورور سره لکه د نسبي ورور په شان پـه میـراث کې شریک ؤ ، چې کله د بدر غزا رامنځ ته شوه او دا آیت : ﴿ وَأُولُوا الْأَرْحَامِ بَعْضُـهُمْ أَوْلَى بِـبَعْضٍ فِي كِتَـابِ اللَّـهِ إِنَّ اللَّـهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴾ [الأنفال: ۷۵]نازل شو ، دغه خاص مواخات منسوخ شو.(الطبقات الکبری لابن سعد ج۱ص۱۸٤)

**د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په هجرت کې د اُمَّت لپاره درسونه او عبرتونه:**

د رسول اکرم صـلی اللـه علیـه وسـلم ټـول ژونـد د درسـونو او عبرتونـو ډک دی او زمـونږ لپـاره پـه کـې دنیـوي او اخـروي لارښوونې پر تې دي چې د هغې له جملې څخه د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم هجـرت دی چـې پـه کـې بـې شمیره دامت لپاره بې شمیره درسونه او عبرتونه پراته دي چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

**۱-** د اسلام دښمنان تل مسلمانانو ته په کمین کې ناست وي، او د اهغه حقیقت دی چې په مکه مکرمه کـې د رسـول اللـه صلی الله علیه له ژوند څخه معلومیږي او کفارو د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو په زوررولو اکتفاء ونکړه او د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د وژلو -نعوذبالله- لپاره په دارالندوه کې راټول شول چې رسول الله صـلی اللـه علیـه وسلم مدینې منورې ته په هجرت کولو مجبور شو.

**۲-** داسبابو د کارولو سره سره په الله تعالی توکل په کار دی. داچې رسول الله صلی الله علیه وسلم په الله تعـالی کامـل او ریښتینی توکل درلود خو بیا هم هغه د هجرت پر مهال غوره پلان تر لاس لاندې ونیولو لکه د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله سره د هجرت په اړه مشوره او د حضرت علي رضي الله عنه ته د هغه په بستر د ویده کیدلو او دهغه مبارک څادر په

ځان اچولو توصیه کول، ترڅو مشرکان فکر وکړي چې نبي علیه السلام په بستر کې ویده ده،دهجرت لپاره د عبدالله بن أُرَیقط د لارښود په حیث نیول، د سفر لپاره د سپرلۍ انتظام کول، د عبدالله بن ابي بکر رضي الله عنهما په وسیله د کفارو د تدبیرونو څخه وخت په وخت ځان خبرول، په شپه کې دابوبکر صدیق رضي الله عنه په ملتیا د هغه د کور د شا دروازې څخه وتل ترڅو مشرکان ورڅخه خبر نشي او په غار ثور کې پناه اخیستل.

**۳- د اسلام په لاره کې قرباني ورکول:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم په هجرت کې بل درس هغه د الله تعالی د دین د نصرت لپاره قرباني ورکول. رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی د دین لپاره خپل خوږ وطن مکه مکرمه پریښوده او د تللو پر وخت یې مخ مکې ته واړولو او داسې یې وویل:(والله إنك لخير أرض الله، وأحب أرض الله إلى الله، ولولا أني أخرجت منك ما خرجت).قسم په الله! چې ای مکې ته د الله تعالی ډیره غوره ځمکه یي اوالله تعالی ته ډیره محبوبه یې، که چیرې زه له تا څخه ویستلی شوی نه وی، زه به هیڅکله له تا څخه نه وم وتلی.

که حضرت علي رضي الله عنه ته وګورو هغه د خپل ځان قربانۍ کولو ته وړاندې کړ؛ ځکه کفار له دې لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم کور محاصره کړی ؤ چې نبي علیه السلام چې کله له کوره راووځي نو سمدستي به ورباندې ټول یوځای دتورو ګذارونه وکړو او له منځه به یې یوسو، په دغه سخته لحظه کې حضرت علي رضي الله عنه د نبي علیه السلام په بستر څملاست او دنبي علیه السلام څادر یي ددې لپاره واغوست ترڅو مشرکین فکر وکړي چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ویده دی.

ابوبکر صدیق رضي الله دالله تعالی ددین د نصرت لپاره د هجرت پروخت خپلې ټولې نغدې اووه زره درهمه له ځان سره واخیستې او په کور کې یي هیڅ پری نښودل او په ځان او اولادونو سره یي د رسول الله صلی الله علیه وسلم مرسته وکړه.

**۴- داسلام په تاریخ کې صادقو ځوانانو او پیغلو تل داسلام دسپڅلې عقیدې په لار کې د قدر وړ خدمتونه کړي دي.**

د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د هجرت پر وخت آسماء بنت ابي بکر رضي الله عنهما چې څه په توان کې ؤ هغه یې ترسره کړل او دملا رسۍ یي دوه ځایه کړله او دسفر خوراکه یې ورباندې وتړله، او عبدالله بن ابي بکررضي الله عنه به شپه د نبي علیه السلام سره تیروله اود ورځې به مکې ته تللو ترڅو د مشرکینو د تدبیرونو څخه ځان خبر کړي او دشپې له خوا یې نبي علیه السلام ته راوړي او عامربن فهیره رضي الله عنه به په هغه لار کې ګډې پیولې چې نبي علیه السلام ورباندې قدمونه ایښي ؤ ترڅو دهغه ګډې د نبي علیه السلام د پل نښې محوه کړي او دشپې به د ګډو شیدې نبي علیه السلام اوابوبکر صدیق رضي الله عنه ته وروړلې ترڅو وږي نشي.

**۵- د سفر لپاره او د ژوند په سختو شرائطو کې صادق او ریښتینی شخص اختیارول په کار دي** لکه چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د هجرت لپاره ابوبکر صدیق رضي الله عنه غوره کړ، ځکه چې هغه صادق، حلیم، آمین او دقربانۍ والا شخصیت ؤ.

**۶- د ضرورت پر وخت مسلمان کولای شي چې دکافر څخه چې امین وي اوپه کار پوه وي په کار وګماري.** لکه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم چې عبدالله بن اریقط چې د مدینې منورې د لارو په اړه یي پوره معلومات درلودل د لارښود په توګه په اجوره ونیولو او حال داچې هغه مشرک ؤ.

**۷- داسرارو پټ ساتل په مرامونو کې د کامیابۍ لار ده.** کله چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم هجرت کولو ، نوپټ دابوبکرصدیق رضي الله عنه کورته ورغلی او یواځې هغه یې د خپل سفر څخه خبر کړ او یواځې دابوبکرصدیق رضي الله

عنه کورنۍ او حضرت علي رضي الله عنه د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم له سفر څخه خبر ؤ او نور په پټه له مکې مکرمې څخه په توره شپه کې ووتلو او دسفر راز یې پټ وساتلو.

۸- څوک چې دالله تعالی ددین سره مرسته کوي الله تعالی د هغه سره مرسته او نصرت کوي. کله چې نبي علیه السلام او ابوبکرصدیق رضي الله عنه دالله تعالی ددین په خاطر خپل وطن اوټاټوبۍ پریښود او په غار کې یې پناه واخیسته، نو الله تعالی دکفارو له شر څخه وساتل او مؤرخین لیکي چې غڼه (جولاګک) راغی او دغار په خوله کې یې جال واچولواو کله چې مشرکین دغار خولی ته ورسیدل او د جولاګک جال یې ولید غار ته داخل نشول.

الله تعالی ددې نصرت او کومک په اړه فرمایلي دي: ﴿ إِلَّا تَنْصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَى وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾ [التوبة: ٤٠]ترجمه: که تاسو د دغه (رسول) مرسته ونه وکړئ، نو )هیڅ پروا نشته) یقیناً الله د هغه مدد کړی دی کله چې هغه دې کافران شویو خلقو په داسې حال کې وویست چې دویم د دوو و، کله چې هغوی دواړه په غار کې وو، کله چې هغه خپل ملګري ته ویل: غم مه کوه، بېشکه الله زمونږ سره دی، نو الله په هغه باندې خپل تسکین نازل کړ او هغه یې په داسې لښکرو سره مضبوط کړ چې تاسو هغه نه دي لیدلي، او د کافران شویو خلقو کلمه یې تر ټولو ښکته کړه او د الله کلمه، همغه تر ټولو لوړه ده، او الله ښه غالب، ښه حکمت والا دی

۹- الله تعالی د مؤمنانو دعاء قبلوي. کله چې نبي علیه السلام او ابوبکر صدیق رضي الله عنه د هجرت په لار روان ؤ او سراقه بن مالک هغوی ولیدل نو دسلو اوښانو دانعام ګټلو په موخه یې هغوی ته ځان ورسولو، کله چې هغوی ته ورنږدې شو، نبي علیه السلام چې کله ولیده چې هغوی ته ورنږدې شو نو داسې دعاء یې وکړه: (اللَّهُمَّ اصْرَعْهُ فَصَرَعَهُ الْفَرَسُ) ای الله ! ته یې را وغورځوئ، نو آس هغه لره راوغورځولو.(صحیح البخاري حدیث: ۳۹۱۷)

۱۰- امانت خپلوخاوندانو ته سپارل په کاردي. کله چې د مکې مکرمې مشرکینو د نبي علیه السلام د وژلو پریکړه وکړه ، نو ددې کار باوجود نبي علیه السلام حضرت علي رضي الله عنه ته وفرمایل: چې صبا به هغه امانتونه چې له ما سره د مکې خلکو ایښي ؤ، خپلو مالکانو ته وسپارئ او بیا به په مونږ پسې مدینې منورې ته راځئ.په دغه سخت حالت کې هم نبي علیه السلام دخلکو دامانتونو په هکله فکرمند ؤ.

۱۱- ریښتیا ویل باید په هروخت کې رعایت شي او د ضرورت پروخت تعریضات ویل باک نلري. کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابوبکرصدیق رضي الله عنه په لار روان ؤ، نو اکثرو خلکو ابوبکر صدیق رضي الله عنه دتجارت په وجه پیژندلو او رسول الله صلی الله علیه وسلم خلکو زیات نه پیژندلو، نو کله به چې خلکو له ابوبکر صدیق رضي الله عنه څخه درسول اکرم په باره وپوښتل نو ابوبکر صدیق رضي الله عنه به ورته دتعریض په ډول ویل:( هَذَا الرَّجُلُ يَهْدِينِي السَّبِيلَ) صحیح البخاري، حدیث۳۹۱۱) دا سړی ماته لار راښایي. هغه سړي به فکر وکړ چې د سفر لار ورته ښایي او دابوبکر صدیق رضي الله عنه مقصود به داؤ چې داسړی ماته داسلام د مقدس دین لار راښایي.

۱۲- سره د قدرته خلکو ته عفوه کول. کله چې دسراقه بن مالک آس تر سینې پورې په ځمکه کې ښښ شو، نو سراقه وویل: چې زه پوهیږم چې تاسو ماته بددعایي کړی ده،زمالپاره دعاء وکړئ چې ددې مصیبت څخه خلاص شم، په الله

تعالی قسم خورم چې زه به نورطلب کوونکي له تاسو اړه وم. نبي علیه السلام ورته عفوه وکړه اوهغه ته یې دعـاء وکـړه او هغه له مصیبت خلاص شو او واپس وګرځیده. ( مسلم حدیث ٣٠١٤ ).

**۱۳-** په اسلام کې د مسجد آبادول ډیر اړین او مهم کار دی. کله چې نبي علیه السلام د قباء مقام تـه ورسـدل،نو لـومړی کار چې نبي علیه السلام وکړ ، هغه دمسجد آبادول ؤ او د قباء مسجد یي آبـاد کـړ. همـداراز کلـه چـې مـدینې منـورې تـه ورسید، نو لومړنی هغه کار چې نبي علیه السلام وکړ، د مسجد نبوي تهداب یې کینښود او هغه یې آباد کړ.

**۱۴-** داسلام دین دمینې ، محبت اوورور ولۍ دین دی. کله چې نبي علیه السلام مدینې منورې ته ورسید، په مدینه منوره کې زیات اختلافات او نفرتونه دخلکو ترمنځ موجود ؤ، د اوس اوخزرج قبایلو ترمنځ دپیړیو پیړیو دښمني موجود وه، هرکله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه منوره کـې داسـلامي حکومـت او اسـلامي ټـولنې بنسـټ کینښـود او اوس او خزرج قبیلې هم ددې ټولنې برخه وګرځیدلې، نو داسلام مبارک دین په وسیله د هغوی ترمنځ وحدت، محبت رامنځ ته شو او دښمني یې په ورورولۍ بدله شوه.الله جل جلاله داوس او خزرج په اړه فرمایلي دي:( إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَـيْنَ قُلُـوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِـهِ إِخْوَانًـا وَكُنْـتُمْ عَـلَى شَـفَا حُفْـرَةٍ مِـنَ النَّـارِ فَأَنْقَـذَكُمْ مِنْهَـا كَـذَلِكَ يُبَـيِّنُ اللَّـهُ لَكُـمْ آيَاتِـهِ لَعَلَّكُـمْ تَهْتَـدُونَ ) [آل عمران: ۱۰۳]ترجمه: کله چې تاسو دښمنان وَئ، بیا الله ستاسو د زړونو تر مینځ جوړښت راوسته، نو د هغه په (دې) نعمت سره تاسو ورونړه شوئ او تاسو له اور نه د ډکې کندې پر غاړه وَئ، نو تاسو یې له هغه نه وژغـورلئ، همدارنګـه اللـه تاسو ته خپل ایتونه بیانوي، د دې لپاره چې تاسو نېغه لار وموموئ

**۱۵-** د رسول الله صلی الله علیه وسلم محبت د هغه دمتابعت باعث دی.دغـه د هجـرت پـه قصـه کـې مـوږ ولیـدل چـې د مدینې منورې مسلمانانو که نارینه ؤ که ښځې،که لویان ؤ او که کوچنیان په څومره شدید محبت او د زړه په اخلاص سره یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم استقبال او ښه راغلاست وکړ، دوی هره ورځ د خپلو کورونو څخه له مدینې منورې څخه بیرون وتل او د لمر تر سوځونکو شعاعو لاندې به د رسول الله صلی الله علیه وسلم د را تګ په انتظار تر ماسپښینه پورې ولاړ ؤ، کوم وخت چې به ګرمي ډېره زیاته شوه او د ورځې ډېره حصه به تېره شوه نو هغوی به خپلو کورونو ته ولاړل چې د سبا ورځې د انتظار دپاره آمادګي ونیسي، کله چې رسول الله صلی الـله علیـه وسـلم مـدینې منـورې تـه ورسـېده، د مسلمانانو په زړونو کې احساسات او عواطف پر جوش راغلل او په ژبه سره یې د ده صلی الله علیه وسـلم د اسـتقبال او ښه راغلاست قصیدې او ترانې ویلې او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د دوی د محبت په بدله کـې محبـت ورکـاوه، تر داسې اندازې چې د بني نجار هلکان شا وخوا ورباندې راټول شوي ؤ او د استقبال یا ښـه راغلاسـت ترانـې یـې ویلـې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: آیا تاسې زما سره محبت لرئ؟ ما خوښ ګڼئ؟ والله چې زما زړه ستاسـې سره محبت لري. دغه صحنه او کیفیت موږ ته دا راښیي چې د رسول الله صلی الله علیـه وسـلم محبـت د متابعـت اسـاس او باعث دی، که چیرې عاطفه او محبت په زړه کې نه وي د متابعت دپاره شوق نه پیدا کیږي.